# دپښتنو غورځنګ

سر که پورته میرویس خا نه لمسیا ن دی پا رید لي
غیرتمند « منظور پښتون » ترشا ټول درید لي
پښتنو له لر او بره د آزادی غږ پورته کړي
د پنجا ب د حاکما نو اور په کور کي لګولي
له وانه تر صواته ، میرام شاه نه تر خیبره
د پښتو د غیرت وینې په رګو کي خوټید لی
له کوټې تر چتراله د وحد ت آواز لوړ شوي
لر او بر پښتا نه تر یوی جنډی ټول شوي
له کا بل تر پیښوره بیا خیبر لاره د تلو شی
پښتنو په دي مفهوم له یوسر ټول پوهید لي
د پنجا ب د حاکما نو د ظلمو ټغر ټولیږي
د پښتو د عزم غږ اسلام آباد ته رسید لي
دپښتون د دی غورځنګ مخه څوک نیولی نشي
دا پاڅون ټول پښتا نه په ټینګ عزم ټول منلي
دخوشحال دغیرت توره بیا په لاس دهر پښتون
د جګړي په میدان کي له نیا مه ټول ایستلي
په جګړه کی به کامیاب شي یا به وخوری ککری
د پښتون د قوم غیرت په تاریخ کی لیکل شوی
نور د دین ټیکه داران پښتون نشی غولولي
مولانا فضل الرحمن ګټي خپل اوس ټول بایللی
طا لبا نوکه پښتون یاست ټوپک واړوي پنجاب ته
که عزت د پښتون غواړی طلای وخت یي راغلي
د با براو با بریا نونصیحت نه لاس پر سر شي
چي هغوی د پنجا بیا نوپه چوپړکي ټول لوی شوي
د پښتون د توری غږ د ښمنا ن وارخطا کړی

*هنګا مه   د دی پاڅون د شمنا ن تړول لړزولي*
*هغه وخت رارسیدلی چی افغا ن شی تړول یو موټی*
*ځکه اوس پښتا نه له درونډ خوب را پاڅید لي*
*لراوبر پښتون هوډ کړي چي وطن خپل آزاد کړي*
*دا خبر «مل» تر لند نه دښمنا ن تړول کړولي*

*****جرمنی «29-03-2018»*

***پوهندوی دوکتور سیدحسا م «مل»***